لیکوال: کلنل سر هنري میکماهن
ژباړه، څېړنه او مقدمه: دوکتورعبدالخالق رشید

۲۰۲۲/۱۰/۰۷

ورځـلیـک

(روزنامچه)

(د ۱۹۰۶ کال د دسامبر له ۳۱ څخه د ۱۹۰۷ کال د مارچ تر ۷ پورې)

اوومه برخه

(CONFIDENTIAL)

DIAMY OF COLONEL SIR HENRY McMAHON, K.C.I.E , C.S.I , CHIEF OFFICER ON SPECIAL DUTY WITH THE AMIR OF AFGHANISTAN.FOR THE PERIOD FROM 31st DECEMBER 1906 TO 7TH MARCH 1907

(محرم)

(د هند ملي آرشیف – بهرنی څانګه)

د افغانستان د ټولواکمن لپاره د ځانګړې ډلې او ځانګړي پلاوي مشر

کلنل سر هنري میک ماهن

لیکوال: کلنل سر هنري میکماهن

ژباړه، څېړنه او مقدمه: دوکتورعبدالخالق رشید

۱۳۹۲

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ۱۹۰۷ کال دجنوري ۷

اونن هم دډیروسترګي دراتلونکي پرلوروي،دافغانانوهم وي، دغي لومړي ورځي ته چي اوس دهندپه زړه کي دسفرورځ وه.زما لپاره هم وه ،چي مادهغي په زړه کي دپیښورله نیمه افغان چاپیریال څخه امیرشکاوه .

له نهوبجولړ وروسته دامیرداخیستولپاره هلته ورسیدم،هغه مي په داسي حال کي وموند چي نورنوپه بشپړه توګه دتګ لپاره تیارو.داچي لاهم وختي و، یوڅه سره تم شواوسره وغږیدو.دی هم په خوشاله اکراودملګریتوب په خوشاله روحیه و. داورګاډي تم ځای ته له رسیدوسره سم موږ ته د سرهارولډ ډینی (Sir Harold Deane) ، جنرال سرادموند بارو (General Sir Edmond Barrow)اوددپیښوردملکي اوپوځي مامورینوله خواهرکلی شوو،دتشریفاتی ګاردچي دهای لنډرسمندري پوځیانوله خوا په ښکلي توګه برابرشوی وله کتني وروسته ،له هغو مامورینوسره چي دده لپاره دلته راغلي وو له یوڅودوستانه خبرواترو اوهمداسي د سرهارولډ ډیني سره دخداپاني دښه سفردیاد دڅوښکلواوتاکل شویوکلمو له ویلو وروسته امیردخپل سپرلی ځای ته ورننوت. مااشاره ورته وکړه چي دی باید دلته دروازي ته چي یوشمیرمامورین اودتشریفاتو ګارد تراوسه ولاړووراشي،هغه داکاروکړاو اورګاډي روان شو.

نوښارته له یونیم ساعت واټن وروسته رسیدو سره موږ ولیده چي دپوځي غونډ دپوځیانو پرید داورګاډي کرښي ته خورانژدي و. امیرله اورګاډي څخه پلي اوهغه ځای ته لارښونه شوهلته چي څوکي دپریددګرته نژدي ایښودل شوی وي. خو ده ترناستي داغوره وبلله چي باید دپوځیانو دپرید دکتني پرمهال لکه یوپوځي یاسپوروي اویاهم ولاړ،ده خپله هم پوځي ډوله کوټ اغوستی اوتوره یي اچولي وه. پوځیانو مارش وکړ اوامیرخورا خوشاله ښکاریده. په ډیره لیوالتیا یي هرڅه کتل اوټول یي لیکل.ده له هغه منصبدارڅخه مننه وکړه چي دده دحرکت پرمهال یي قوماندہ ورکوله. ده وویل، دریغه چي دی دومره وخت نه لري چي دټولوځواکونوکتنه ترپایه پوري وکړي. خوڅه چي ده ولیدل هغو دی دزړه له کومي خوشاله کړی و .

په دری نیمو بجو موږ راولپنډی ته ورسیدوهلته بیادغونډ اړوندان داورګاډی له تم ځای سره نژدی ولاړوو. امیرپه پلیت فورم کي د جنرال سراو موري سریګ(General Sir O'Moore Creagh) اودهغه دمهمو مامورینوله خوا هرکلي شو، له هغوټولو سره ده په لاس روغبړوکړاویویوده ته وروپیژندل شول. دتشریفاتو ددواړو رتبوتشریفاتي پوځیانومعاینه وشوه،امیرهغي خیمي ته بوتلل شو هلته چي دسلامی اودرنښت مراسم په کي نیول شوي وو. دلته بیا دی باید ناست وای خو ترهغو چي پوځیان تیریدل دی ورته ولاړو. دایوه جالبه اودپاملرني وړ ننداره وه،امیرهم ښکاریده چي له دغه حالته ډیرخونداخلي،په تیره بیا دتوپچي له تیریدو او مارش څخه ،ده جنرال ته داخبره ورغبرګه کړه چي باید دآسونو، دکچرواوساحوي توپچي ټول دده دمعاینې لپاره راولي، ده هره برخه په ځیرکي سره وکتله، اودهري برخي دجوړښت په اړه مناسب اواړین معلومات ورکړل شول.دده لویه لیواتیا په دغه برخه کي له تخنیکی مسایلوسره وه په دې چي دی نژدي (۱۲) کاله په کابل کي دخپل پلاردپوځ په ورکشاپونوکي له همدغو اړوندوچارو سره بوخت پاتي شوی و. کله چي مارش پای ته ورسید له هغه وروسته په خیمه کي دچای څښلو وارشو.هلته چي ده پرجنرال موري سریګ اونوروباندي ټینګاروکړ چي له ده سره باید یوځای وي . دی خورا خوشاله و، خو زه اوس بیا په دغه ستونزه کي ښکیل وم چي څنګه دی ترخپل اورګاډي پوري زرورسوم. هغه راته وویل چي زه په خپله دنده کي خورا جدي لارښود یم ، خوڅه مي کړي وای په دې چي موږ اوس هم یوساعت ناوخته شوي وو.

امیرپه دی خوشاله و چي دی داورګاډي سفرپه آرامی سره پرمخ بوزي، یوڅه خوماپه لاسی توګه دی داسی لارښونه کاوه چي لږترلږه ترهغوچي دی په اورګاډي کي وي دآرامی احساس ونه کړي ځکه هغه څه چي پرنورو دي ، بایدپرده هم وي. خوده وویل چي دی به دااحساس ونه کړي.لنډه داچي دی پردي ډیرغره وچي تراوسه یي په اورګاډي کي دناورغی اوستومانی احساس نه دی کړی .

دی دخپل ناست ځای د سالون له ټولو شیانواودهغو له برابروآسانتیاووسره ډیرخوشاله واوهرڅه یي په هراړخیزه توګه ترخپل نظرپه پوره پاملرني سره تیرول.هرڅه، بیلابیلي کړکی، الماری ، بریښنایی څراغونه اوپکي،سوچونه اونورچي زیاتره یي په لومړي ځل دده لپاره ناآشنا اومعمایی شیان وو خواوس بیا پرټولو باندي پوهیده اوله هرڅه سره آشنا شوی و .

پر جهلم باندي موږ نژدي دوه ساعته دمابښامني لپاره ودریدو،ماامیرته دکمشنرمرستیال ښاغلی کونولي(Mr. Conolly) اودستشن قوماندان جنرال ګري(General Grey) چي دده لیدوته راغلي وو وروپیژندل.

کوم تیاري چي دمابښامنی په ترڅ کي دټولوافغانانواوافغان پوځیانولپاره نیول شوي و، له هره پلوه دستاینې وړ، په زړه پوري اوپه هراړخیزه توګه سمبال شوي وو .

د ۱۹۰۷ کال دجنوري ۸

دسهارپه لسو بجو سرهند (*) ته ورسیدو، هلته موپولیټکل اجنټ میجرډالز(Major Dallas) اودپټیالی(**) دحکومت استازي ولیدل. دپټیالی دپلي امپریال سرویس دتشریفاتوګارډ پلیت فارم ته نژدي سمبال شوی اوتیارسئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

و،ورسره حکومتی سپرلی وسیلې زموږ لپاره دپټیالی دنیزه لرونکوبدرګه والو له خوا دښکلي کمپ پرلورچی دلته نژدې جوړشوی و تیارې ولاړې وې،امیریې ترهغه ځایه بدرګه کړ،هلته چې ستیج اوتخت دهغه په وروستی برخه کې
جوړشوي وو،امیرمخامخ همالته ورغی اوهلته کیناست. هلته یوه وړه ستونزه دهغوی له خوا چې ویل یې څه باید وشي او چیرې باید ولاړشو،رامنځ ته شوې وه،خو ما زر داستونزه حل کړه داسې چې افغاني مامورین مې هغوڅوکیوته چې په ښی خواکې ځاي پرځای شوې وې لاربښونه کړل اوهمداسې مې دپټیالي هغوي
کینې خواته. دهرکلي لنډې خبرې دورستی ډلې دیوه تن له خوا وویل شوې چې امیرهم هغه په لنډیزسره ځواب کړې.ځکه چې ښکاریده امیر دزیاتو ویلولپاره نیت نه لري. زه پورته شوم او په خپلووتوسره مې غونډه پای ته ورسوله.
مهاراجا په لاهورکې په یوه ښونځي کې و اوسیمه ییزه شورا هم حاضره نه وه، کیدای شي چې دا پریکړه به شوې وه چې دهغو لپاره اړتیا نه وه. دامیرداستوګنې په لامل دنورو تیاریولپاره اړتیاهم نه وه ، کمپ په خورا ښه توګه سمبال شوی
و،یوازنې شکایت چې ما واورید هغه داو چې هرڅه ډیرښه اوپه زړه پورې سمبال شوي وو، دکمپ ښکلا اوهراړخیزدیزاین زموږلپاره داستونزه رامنځ ته کړې وه چې نورکمپونه په تیره په اګره کې به هم دومره اوچت اوښکلي نه وي چې له دغه کمپ سره دې په سیالی یادشي. کومه میلمه پالنه چې دسیمه ییزحکومت له خوا شوې وه هغه له هره پلوه دافغانانواوزموږ ټولو لپاره دستاینې وړوه .
دسرهنددکتنې سره په تړاو زه باید ووایم چې امیرددې په څنګ کې چې دغه مزار (***)اهمیت ورته درلود، ده په دغه اړه چې د هند د سفرپه ترڅ کې به مقدس ځایونه اومزارونه ګورې په خپلولیکونو کې هم موږ ته سپارښتنه کړې وه .پرکوچنی سینګارشوی اورګاډی برسیره چې له سرهنده ترزیارت پورې په پام کې نیول شوی و، بیاله هغه ځایه تر زیارت پورې هم بې شمیره نورې وسیلې دپټیالي دحکومت له خوادامیراودهغه دافغاني ډلې دلیږدولولپاره برابرې وې .
امیرپرون له ماپوښتنه وکړه چې ولې موږ لس ساعته دمه دسرهند لپاره په پام کې نیولي ده .ماورته څرګنده کړه چې داپه دې خاطر چې ته له یوې خواد مزار کتنه
وکړې اوله بلې خوا یوڅه آرام .ما داهم وویل چې ما فکرکاوه دی به له یوې شپې مزل وروسته داوږدې دمې هرکلی وکړې،په دې چې ما نه غوښتل دی اګرې ته په ماتو څانګو اوسترې اکرراورسوم. ما ویل چې زیارت ته تګ دده خپل کاردي اوخپله باید هلته ولاړشي،ما نه غوښتل چې له ده سره هلته ولاړشم اویاپه سرهندکې دده په کارکې ځان ورواچوم. دی باید خپله ولاړشي اوهغه څه چې زړه یې غواړي باید خپله یې په خلاصومتوترسره کړي .ان چې له ځان سره بدرګه وال هم دی په خپله خوښه له خپلوکسانوڅخه چې هرڅوک غواړي غوره کولای شي .
دهمدغې خبرې دعملي کیدوپه خاطرما امیرپه تمامه معنا یوازې پریښود، خوده خپله زیاته ورځ په خوب او له خپلوسردارانو سره پرمهموموضوعاتو چې زه فکرکوم په دې باره کې **چې کله دوی اګرې ته رسیږي، هلته بایدڅه ، په څه ډول ترسره کړې په غږیدو تیره کړه .**

(*) سرهند له (سه) او (اند) څخه جوړنوم دی چې دلومړي مانا زمري او د دویم مانا ځنګل دی،هیوان تسنګ هم په خپلوآثارو کې یاد کړي دی، په جغرافیایی لحاظ هم دغه سیمه په داسې موقعیت کې پرته ده چې له هندوستان سریادیږي،ځکه نو وروسته دغه (سه اند) په (سرهند) باندې اوښتي دي .
(**)پټیاله او سرهند اوس دیوې سیمې دوه نومونه دي، پټیاله دسلطان بهلول لودي په عصر(۸۸۷هجري) کې جوړشوی ښاردی، ددغې سیمې په اړه ویل شوي چې پنجاب دکابل او بلخ له خوا دمغلو تربریدونو لاندې و، کله چې بهلول لودی تاتارخان دلاهور صوبدارمقررکړ،هغه مسلمان شو، بیایی پریوه ډاګ دپټیالي دښاربنسټ کیښود، (پټا) په پنجابي ژبه کې راکړې ورکړې ته وایی . (وګورئ، هندوستان کی مسلمان حکمرانون کې عهدکی تمدنی کارنامې ، اعظم ګړ ۱۹۸۶ (۱۱۶) مخ (.
(***)دکوم مزارنوم چې دلته یادشوې داد هند دنیمې وچې دنامتوعارف اودنقشبندیه سلسلې دپیراومرشد شیخ احمد سرهندی (۱۶۲۴-۱۵۶۹م) مزاردی ، هغه لوی عارف چې په خپل وخت کې یې سردوخت نامتو واکمنانو لکه جلال الدین محمد اکبر او دهغه زوی نورالدین محمد سلیم جهانګیرته ټیټ نه شو. امیرحبیب الله خان دغه عارف ته د درناوي پرلامل دهغه مزارته ورغی او هغه ته یې خپل ارادت وړاندې کړ (رشید)

مازدیګرلاتراوسه هم ناوخته نه و چې ده دزیارت دلیدو پرخوا یوازې له یوڅه پلویانو سره دتلونیت وکړ،هغه نه غوښتل چې ډیرټیل ماتیل اوزیات کسان له ځان سره بوځي که څه هم دده ډیرو سردارانواوچارواکو داهیله درلوده چې مزارته ولاړشي اوهلته خپل درناوی دهغه په وړاندې څرګندکړي،خوونه توانیدل ځکه چې امیرونه غوښتل .امیر لکه څنګه چې ما ته وویل شول زرروپۍ مزارته نذرورکړي،پرهمدغه مهال میرزاسلطان محمد پخوانی میرمنشي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

(*)اودپخواني امیرعبدالرحمان دژوندلیک لیکونکی راپیداشو، ځان یې دامیرپښوته ورواچاوه اوله هغه یې دبښنې هیله اوغوښتنه وکړه، خوامیرهغه پوري واهه (زما معلوماتی ماته دامعلومات راکړل) اوورته ویې ویل چې مخ دې بیاراونه ښې .لږ وروسته هغه بیا را پیداشو، سل روپۍ یې زیارت ته نذرکړې خو امیرهغه سل روپۍ ایسته وغورځولې اوهغه سړي ته یې وویل چې ویې شړي .

دبیرته راتګ پرمهال امیرله کوچنی اورګاډی سره دزړه له کومې لیواتیاوښوده ، اوهم یې په همدغه مهال یوه پلاوی ته چې دسرهند هندوان وو ، وویل چې دی غواړي لوی اخترپه ډیلي کې ونمانځي .ده هندوانو ته ددرناوي اوداد ورکولو په ترڅ کې داهم وویل چې دی به په دغه ورځ یوازې وزې اوپسونه قرباني کوي اوبس .

ما واوریده چې کله امیرنن له خپلوسردارانوسره خبرې کولې، هغوی ته یې خپل هغه اغیزچې پرونې پوځی مارش پرې کړی و په ستاینې سره یاداوه. ده محمدآصف خان اومحمدیوسف خان ته دمخ په اړولوسره وویل : « تاسې به اوس بیا ماته وایاست چې افغانی پوځ پرانګریزي پوځ باندې لوړاواوچت دی،خو ماته اوس دا په ډاګه شوه چې دبریتانوي پوځیانودغه مارش اودتوپچی وړتیا زه له حیرانتیاسره مخامخ کړم، زه فکرکوم چې دابه یوه پیړۍ وغواړي چې افغانان دې دداسې یوه ښه سمبال شوی اغیزناک دولت اونظم خاوندان شي «.

کله چې زه دشپې په ۹ بجو او ۴۵ دقیقو امیرته په دې خاطرچې له ځان سره یې داورګاډي تم ځای ته بوځم،ورغلم،ما هغه په خوراخوشاله اکراودملګریتوب په فضاکې ولید. له مایې مننه وکړه چې دده لپاره مې په سرهندکې دغه اوږد تم توب په پام کې نیولی و،هماغه اوږدتم توب چې په پیل کې یې ده دلته دومره پاتې کیدل اړین نه بلل. ده وویل چې ده وکولای شول چې ښه دمه وکړي اوپوره ځواک په دغه موده کې ترلاسه کړي. ما بیاداهم ترغوږ ورتیره کړه چې دخدای پاماني پرمهال دپټیالې حکومت استازوته یوڅه ښکلي ووایی.چې داکاریی په خوراښه توګه ترسره کړاوویې ویل چې زما لپاره سرهند اوپه دغه ځای کې چې کوم تیاري زما لپاره ترسره شول هغه په هراړخیزه توګه دستاینې اومننې وړدي . ده وویل چې دخپل سفرپه وروستیو کې به خپله مهاراجا هم په لاهورکې وګوري اوهمداسې مننه به له هغه هم وکړي .ده داهیله هم څرګنده کړه چې یوه ورځ به د دوی له دود او اصولو سره سم دهندوستان حکومت په دی وتوانیږي چې راجا به دهغه پرګدۍ باندې کینوي. له هغه وروسته یې له میجرډالز سره داورګاډي په تم ځای کې خداي پاماني وکړ .له لنډې مودې تم اودمې وروسته چې موږپه امباله کې درلوده ،هلته ترهرڅه زیات پرامیرباندې هغې صحنې خورا زیات اغیزوکړ،هغه چې یوې وړې انګریزۍ نجلۍ له خپل نیکه سره دخلکویووړه ډله پرپلیټ فارم کې پرځان راټوله کړې وه. ده هغه نجلۍ خپلې خوا ته راوبلله، اوده ته یې خپله کیسه وکړه چې دا په شمله کې په ښوونځي کې ده او اوس په رخصتیوکورته راغلې ده. له اوږدو خوږو اوله مهربانۍ ډکو خبرو چې له ده سره یې وکړې،جیب ته یې لاس کړخپله بټوه یې راویسته اوله هغې څخه یې څلورطلایی مهرونه هغې ته وردالی کړل اوورته ویې ویل چې دځان لپاره یوښه بند ترې جوړکړي .

ما واوریدل چې دوه اورګاډي له افغاني پوځیانوسره روغ رمټ اګرې ته ورسیدل.دوی ته هرډول تیاري اواسانتیاوې په ښه توګه نیول شوي وو،دافغان لوري دسپلین خوراښه و، تراوسه پورې خومور له دوی سره یوازې یوه کوچنۍ فوق العاده ستونزه چې هغه سفرو درلوده .

چارشنبه د ۱۹۰۷ کال دجنوري ۹

دامیرګاډی اګرې ته په لسوبجو ورسید.په پوځي یونیفورم کې پوره پوځي هرکلی دوی ته وویل شو.لفټنینت ګورنر، دختیززون قوماندان لیفټنت جنرال ، مهم ملکي او پوځي مامورین اوددوی اړوندان ټول په تم ځای کې دهرکلي لپاره دریدلي وو. ما امیرته لفټنینت ګورنراو لیفټنت جنرال دواړه وروپیژندل اوهمداسې هغوي بیاپه خپل وارخپل خپل مامورین امیرته ورمعرفي کړل. امیرله ټولو سره په لاسوروغبړوکړ،اوهم یې دباندنیوچاروزارت دسکرتري مرستیال ښاغلي کلارک ته

(*)پنجابي سلطان محمدخان چې دعبدالرحمان پرمهال دهغه دمیرمنشي دنده درلوده. دعبدالرحمان خان له خاصوکسانوڅخه شمیرل کیده ، دهغه ژوند لیک یی هم لیکلی دی ، د دیورند له پلاوي سره هم دی ډیرمهم څوک و، ځکه لیکوالو دی د انګریزانو او افغانستان دواړو دجاسوس په نامه هم یادکړی دی . په ۱۸۹۷ کال له کابله پټ وتښتید، ځان یې لاهورته ورساوه ، هلته انګریزانو بندي کړ، خودیوې انګریزي لی لا هملتون په منځګړیتوب خوشی اوبیا لندن ته ولاړ، هلته یی ځان د امیر دا ستازي په نامه نامتو کړ، سره له دې چې دامیرحبیب الله خان استاد و خو سخته کرکه یې ترکیده اواجازه یې ورنه کړه چې بیا کابل ته ورستون شي . چې ددغې کرکې څرګندونه یې په دغه متن کې تاسوولوسته ، سلطان محمدخان د نامتو شاعر فیض احمد فیض پلارو . په ۱۹۳۱ کال کې په سیالکوټ کې مړشوی دی . (رشید)

یوڅوټکې دمننې په توګه وویل،هغه چا ته چې ده پیژاند اودوه ځلې یې په کابل کې ورسره لیدلي هم وو.زه خوشاله شوم اوباید داټکی په ګوته کړم چې دامیرپه دغه سفرکې دالومړي ځل و چې ده دهغه په ترڅ کې له دوو ځایی او پوځي آراستوګنومامورینوسره چې دجنرال مامورین ووهم ولیدل اوسترې مه شي یې ورسره وکړل.ده همداسې اوس

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پرته له دې چې زه هم برخه ورسره واخلم هرڅه يې په خپله پرمخ بيول اوددرناوي ګارډ دواړې برخې يې هم په خپله معاينه کړې .
له هغه وروسته هغې دولتي سپرلۍ بګۍ ته لاربښونه شو،چې دڅلورواسونو په واسطه دهغې چلونکي ليږدوله، اود ليفټنت ګورنر په ملتيا ديوزيات شميروسيلوله خوا چې زياتره يې د بنګال داتلسم غونډاړوندوان وو بدرګه کيده.پر واټونوباندې هرې خواته پوځيان ولاړوو.برسيره پردې سړکونه ټول له دواړو خواو دپوره ټيل ماټيل شاهدان وو، په هره خوا کې بيرغونه اوشعارونه ترسترګوکيدل .
موږ په داسې حال کې چې باران نرى پيل شوى حرکت وکړ او ورو وروترهغو چې د سپرلې مراسم پاى ته رسيدل، باران دومره زيات شو چې هرڅه يې لانده اواوبوپرسرواخستل، اميرهم خپله بګۍ له ځانه لرې کړه او هم يې خپل کوټ له ځانه پريوه خواکړ، همداوه چې ټول دهغه په پله ولاړو اوټول ښه په مزه لانده شوو .
کمپ ته له رسيدو سره سم اميرله فارن سکرتري اودعالجناب ويسراى له پوځي او شخصي سکرترانو سره وکتل، ليفټنت جنرال سر الفريدګاسيلي(Gaselee General Sir Alfred) عالجناب اميرته خپله خواشيني له دې امله چې ډيرلوندشو څرګنده کړه، خو هغه بيا ځواب ورکړ،داچې دده دملګرو پوځيان پرته له باران ضد کوټونو په باران کې ولاړدي، نو زه ديوه پوځي په توګه څنګه کولاى شم چې ځان دې له بارانه په کوټ کې وساتم. له دې وروسته ټولو خداى پامانى ورسره وکړ.
اميرموږ ته څرګنده کړه چې دى په رښتيا هم ددومره لوى کمپ اوپرتمينې خيمې دجوړولو اوتيارولو امله چې دده داستوګنې په نامه جوړشوى وتراغيزلاندې و .، خو يوڅه وروسته، په هغه ورځ موږ واوريدل چې دده دخوب کوټې او تشنابونه څه ستونزه لري او يا اوبه په کې راغلې دي، خو دايوه خبره هم نه وه په دې چې موږداهرڅه اوټول مواد له افغان استازي سره په مشوره کې ځاى پرځاى کړي اوسمبال کړي وو،خو لږ په طبعي بڼې سره. اميرموږ ته ډاډ راکړچې دلته په هراړخيزه توګه دده دژوند ډول آسيايى څه چې آن په اروپايى ډول سره دى .
ما له اميرسره دهغو بيلابيلومراسمو په اړه چې په اګره کې زموږ په وړاندې وو اوږده ورځ خبرې وکړې ،زه په دغه اړه يوڅه په ګونګه خړه کې وم ، په دې چې ددغومراسمو په اړه اميرپه فوق العاده توګه دخپل ځان اودريځ دپرتم اولوړتيا په اړه زموږ په کړوباندې شکمن و. ټول دولتي تشريفات په هرډول چې شوني وواوپه څه شان چې زموږ خوښه وه عيارشوي وو،په دې چې ددغو ټولومراسمو پرګرام له ډيرپخوا چاپ شوى اوخورشوى و. خو اميرله دې سره سره هم ددغو يوه په فکرکې نه و .
په دې باره کې چې سبا به دې له ويسراى سره ګوري او ويسراى به بيرته له ده سره،په دغه برخه کې ده پردې ټينګارکاوه چې ويسراى به خپل ساتونکې له ده سره بدرګه کوي، اودده سپاره(له سپارو څخه مراد هغه خاص کسان اوسرداران وو چې هغه دده په خپله کورنۍ د ده دغورنيکه پاينده خان په اولاده پورې اړوندوو) به له ويسراى سره مله اوبدرګه کيږي.ما داورته په ګوته کړه چې دا د دود برعکس خبره ده، خو ده وويل چې: « نه» زه نه غواړم چې دپوځونونداره وکړم، زه پوهيږم چې تاسې کولاى شى سل تنه، دوه سوه تنه، په زرګونو پوځيانو له ماسره بدرګه واستوئ،خو زه دايوهم نه غواړم. زه يوازې دويسراى ديوڅو تنوساتونکو درناوى غواړم، که زه هغوى له ځان سره مله وګورم ، زه به هم دخپلو سپرواوخپلو کسانوپه واسطه دويسراى درناوى وکړم .
دهندې تشريفاتواومقرراتو له مخې، زما دنده اوس زما په وړاندې په داسې حالت کې ډيره درنه شوې وه،هغه ماته په پيښورکې ويلې وو چې پرده به دا فشار نه وي چې دلته ځه او داوکړه چيرې چې دده دکيناستووړانديزوهلته به کيني .
نن ما ده ته په ديوان عام کې هغه ټوله نقشه اوپلان چې څوک بايد چيرې کيني په ډاګه کړل، ده دغه پلان په هراړخيزه توګه ترخپل پام تيرکړ،خو زه بياهم پردې ونه توانيدم چې دى د له خپلې پخوانې خبرې راکوزکړم .
دى اوس پر دغه خبره ولاړو چې يابايد له ويسراى سره په يوه لين کې کيني اويابايد په دغو مراسموکې له برخې اخيستنې ډډه وکړي .خودى بايد په دغو مراسموکې برخه واخلي ؟ په دې چې دادهند د حکومت له هغواړينواصولوڅخه و چې دهغو له مخې دى بايد په دغو مراسمو کې وي اوګډون بايد په کې وکړي . ما په دغه اړه خپل ټول دلايل چې له ماسره وو وکارول. ما دويسراى په خورا مهم دريځ اونوروباندې چې په څه ډول يې دهمدغو مراسمو په ترڅ کې دواکمن امپراتورهرکلي کيده هم په ګوته کړ، ما داوړانديزهم ورته وکړچې کولاى شي دى يوازې دپيل په دغولومړنيومراسموکې يادشوى دود اونظم په پام کې ونيسى ، په نورومراسمو لکه دخداى پامانې کى يې بيا زړه چې چيرې کيني هلته به په دغه اړه دپوښتنې وړڅه نه رامنځ ته کيږي. ما دغه خبره دډيرولويو امپراتورانولکه دروسيې اوجرمن دمشرانوپه اړوند هم ياده کړه ،خو اميردغه اروپايى تحليل اوبيلګو ته هم اوږه نه ورکوله اوټول ټينګارې په دې وچې بايد پرهغه څه باندې عمل وشي چې هغه دآسيايي دريځ څرګندونه وکړي،چې يابايد له ويسراى سره په يوه کرښه کې برابرکيني اويابايد په دغو مراسموکې برخه وانخلي .
په دې خاطرچې ددغې ستونزې لپاره مې دحل يولاره موندلې وي، ماپه دغه لړکې له هرډول هڅې اوهرې تګلارې څخه کارواخيست ، خو په پاى کې په هراړخيزه توګه ددې لپاره ناچارشوم چې بايد داستونزه اودغه پوښتنه چې اميربايد له ويسراى سره په يوه کچه او يوځاى کې برابرکيني له ويسراى سره شريکه کړم، هغه کيداى شي په دغه

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

اړه کومه ادعا ونه لري،خودابه وي چې ویسرای باید په منځ کې کینې اوامیریې ځنګه ته ، داسې چې ترڅلورفوټو زیات واټن یې باید په منځ کې نه وي. ماهمدغه پلان په ګوته کړاوبیامې په خپل حرکت پیل وکړ،اوومی ویل فکرنه کوم چې په دغه ترڅ کې به دهغه څه په وړاندې چې امیریې غواړي زه په بري باندې ورمخ شم .
مادویسرای په لورورمخه کړه ،څوهغه ته دغه راولاړه شوې ستونزه په ګوته کړم.. ویسرای په خورا مهرباني اودزړه له کومې دامیردسپروغوښتنه ومنله ، خودعامو مراسمو په اړه زما وړاندیزامیرته یوه نوې تګلاره وه،هغه مراسم چې دهغو له مخې به دی په دې وتوانیږي چې په داسې مراسموسره بدرګه شي لکه چې په دې نژدې کې پاچا هاکن(King Haakon) ته د(جی سي . بي) دورکړې په لامل په پام کې ونیول شول. هلته چې دهغو په ترڅ کې دناستې لپاره موقع برابره نه شوه. خوزما په زړه کې ددغه وړاندیز په اړه هم شک واوزړه ته مې نه رسیده چې دا لاره به هم اغیزمنه شي. ماداوړاندیزهم وکړچې په دغه اړه به نورهرڅه ترهغوچې امیراوویسرای له یوه اوبل سره دهغه پلان له مخې چې سبا ته په پام کې نیول شوی وڅوڅوځلې ګورې بندوي.
په هغه ورځ درندباران شوی و،دامیردخیمې بریښنایی څراغونه له دې امله چې دخیمې چت اومځکه دواړه لانده شوې وو ونه لګیدل،موږ ناچارشوو چې باید په سلګونو تیلې څراغونه راوړوځودده خیمې اوکمپ ورته روښانه کړو .

د ۱۹۰۷ کال دجنوري ۱۰

له نیکمرغه هغه دروند باران چې ترپرون پورې هم روان وله څلورو ورځو وروسته ودرید .
سهارمهال امیرله عالیجناب ویسرای سره خپله رسمي کتنه چې پرون پلان شوې وه ترسره کړه،امیرباید یوازې شل تنه سپاره نن ماسپښین دویسرای د درناوي په خاطرهلته واستوي، لکه څنګه چې ویسرای هم نن سهاریوازې خپل شل تنه بادي ګاردان دامیرهرکلي ته دهغوډیرو سپروپرځای چې دده هرکلي ته په پام کې وو واستول،پاتې بهیرټول له سره ترپایه په رسمي توګه په پام کې و .هغه پلاوی چې دویسرای ددفترله غړواوهمداسې دباندنیوچارواله مامورینوڅخه جوړو، هغوی ټولوله امیراودهغه دپلاوی له غړواوهمداسې له بریتانوي اوزما دډلې له ځایی غړوسره وکتل،اوبیا ټول دویسرای دکمپ پرلوروخوځیدل .
امیرته د درباردخیمې په وره کې دعالیجناب ویسرای له خوا هرکلی وویل شواوله هغه وروسته هغه پرتخت سمبالې کوټې ته لاربښونه شو،هلته دامیردپلاوي غړې دامیرله خوا یویو ویسرای ته وروپیژندل شول. له هغه وروسته موږ ټول، دامیردله ښې خواته اونورکیڼې خواته کیناستو .دامیرد ډلې ګډوغړو، دده خپلو او هغوکسانو چې زما ترامرلاندې وو موږټول دډیرو ورځو لپاره له ستونزو سره مخامخ کړو. ما یوازې تیره شپه له امیرڅخه دده دخپلې ډلې دوتلو امرترلاسه اوځان مې ترې خلاص کړ .
امیراوویسرای دڅوشیبولپاره خبرې سره وکړې، له هغه وروسته چای راوړل شواوپرټولو وویشل شو،ویسرای دچای پیاله امیرته ورکړه چې په مقابل کې یې امیرویسرای ته شیدې وردالی کړي. وروسته امیرله ویسرای څخه دهغوتیاریواوهرکلي له امله چې ده ته په هندکې ونیول شول دزړه له کومې مننه وکړه.اوپه عین حال کې یې زما دکړو چې له ده سره مې دده دسفرپه ترڅ کې تراوسه ترسره کړي ووخوښې اوستاینه وکړه، امیراوویسرای بیابوه اوبل ته دملګریتوب ډاډ څرګند کړ،امیرهم دزړه له کومې دخپلې ملګرې څرګندونه وکړه. دده چلند اواکرپردغه مهال په هراړخیزه توګه خوشالونکی،طبعي اوپرځان ډاډه و. ده بیا له دې امله هم له ویسرای څخه د ژورې مننې څرګندونه وکړه چې دده هرکلي ته یې خپل ګارد دبدرګې پرلامل وراستولی و، زه پوهیږم چې امیر دغه درناوي دزړه له کومې وستایه اوپرې خوشاله و، په دې چې ویسرای له غرمې وروسته بیا دده کتنې ته هم راغبرګ شو اوورسره یې وکتل .
مخکې تردې چې ویسرای راورسیږی ، ما له امیرسره څو شیبې وکتل،ده په خپله په کوټوکې دڅوکیودایښودل،دهرکلي دګارد ځای پرځای کول اودده کمپ ته دراغزیدلې دهلیزپه اوږدوکې دخپلوتشریفاتي کسانوددرولوکارپه خپله لاربښونه کړ .ویسرای پنځلس دقیقې له هغه وخته چې وعده یې کړې وه مخکې راورسید، خو امیرتراوسه هم په خپله لاربښونه بوخت و. دی تراوسه هم په خپله عادی لیکې لیکې دریشې کې و، ماپه دغه اړه په جدی ژبه ورته وویل چې دی بایدهرڅه زما له ساعت سره سم برابرکړي، خوده راته وخندل اوویې ویل چې دی کولای شي په پنځودقیقوکې خپله دریشی واغوندي. ماشکمنه موسکا ورته وکړه اودی په خپل کارشو.دپنځودقیقو په ترڅ کې هغه خپله دریشي واغوسته اوپه خپل جنرالي یونیفورم کې چې په ستورواو پټوباندې ښکلول شوې وزموږ مخې ته راووت.اوداپه رښتیاهم داسې چاره وه چې په خوراښې چټکی اوتیاری سره ترسره شوه. د ویسرای له رارسیدو سره امیردخیمې په دروازه کې هغه ته هرکلی ووایه،(له ویسرای سره لارد کیچنیر، لفټننټ ګورنر اوټول هغه لوړرتیه مامورین چې سهارورسره وو ملګري وو - میکماهن) له دود سره سم لکه چې سهارویسرای ده ته هرکلی ووایه اوامیرخپله لوړرتبه ډله وروپیژندله ، همداسې اوس ویسرای له خپلې ډلې سره راغی او هغوی ټول یې امیرته وروپیژندل. ډیرې خبرې دملګرتیا په اړه وشوې، له هغه وروسته چای راوړل شو. دواړو خواوو هم سهاراوهم اوس په اګره او کلکته کې دلازیاتوغونډواولیدنوکتنوهیله وکړه اوله دې وروسته ویسرای اوملګرو یې خداپامانی وکړ .

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په) ۳۰، ۴ (بجو ما امیردویسرای دبن میلمستیا ته وخوځاوه، دلته دی دلومړي ځل لپاره له اغلي میرمن منټوسره آشناشو،امیردلته دهغې له خواپرټوله غونډه راوګرزول شواودماسپښین زیاته برخه یې له هغې سره دلته تیره شوه، میلمستیا په څولامله خورامهمه اودپاملرني وړوه ځکه چې امیردلته دلومړي ځل لپاره له هندي شهزادګانو لکه دمیسور،ګوالیار،بیکانیراویوزیات شمیرنوروسره هم ولیدل .
داواکمن شهزادګان ټول امیرته وروپیژندل شول، په دغه غونډه کې دغه پیژندنه په تمامه معنا یوجالبه اوله تودو احساساتو ډکه وه چې په هغې کې هندي شهزادګانو ځانونه دامیرپه شاخواکې لیدل اوځانونه یې هغه ته ورپیژندل .
په هندکې زیاتروهغوی چې نظریاتو یې وزن اوارزښت درلود،هغوی په عمومي لحاظ په دغه ترڅ کې ددغوهندي مشرانو ددریځ په اړه متوجه وو، ددوی دفکرکولواوتوجه عمده ټکی داوچې امیرته دزیات درناوي اوپاملرني خبره به زموږ دوفاداروهندي مشرانو پرحال اودریځ باندې ژوره اغیزه وکړي .زه باید داهم په ډاګه کړم چې ان درامپورنواب اګري ته رانغی او ویې نه غوښتل چې له یوه سرکښ اوباغي افغان سره وګوري **(*)**.
دغه شان دوه ګونی چال چالنددهغوی لپاره چې ددغه حالت شاهدان وو،په خپله دډاراوتوپیرفضارامنځ ته کړی وه اودایې ښوده چې دغه توپیربه په خپل وارسره ددغوواکمنو نوابانوپه دریځونواولیکوکې دیوه ژورشک اوناباوري فضارامنځ ته کړي .
امیرله ټولوسره په لاس روغبړوکړاوله هریوه سره یې په ملګریتوب پوره خبري وکړي.ده دګوالیارله راجاسره د لاس ورکولو په ترڅ کې دخوشالۍ څرګندونه وکړه، هغه په لاس ورکولو سره د زړه له کومي خوشاله شو،ځکه امیرفکرکاوه اودایې بیا په ډاګه کړه چې ده فکرکاوه ،یوشمیرهندوان نه غواړي چې خپل لاس چا ته ورکړي بلکه عکس العمل ښیي .
ما امیردبهوپال بیګمی ته وروپیژاند، هغې چې ده ته مخامخ په هماغه پرده کې چې تل به یې هغه اچوله ولاړه وه په فارسی کې په ښه توګه خبري کولې شوې، ځکه یې له هغې سره ښایسته شیبه خبري وکړي اویوه بل ته یې دفارسی شاعرۍ یوشمیرشعرونه هم سره تیراوبیرکړل .
دماسپښین ددغې ناستې بله په زړه پورې اوجالبه خبره دبنارس د زاړه مهاراجاخبره وه چې له امیر څخه یې دده دهغه چلن چې په افغانستان کې دهندوانو په وړاندې ترسره کیږي مننه وکړه .
امیردټولواروپایانواوځایي استوګنو په وړاندې دپاملرنې ورڅرګندونې وکړې،ما ولیدل چې ده دهریوه په وړاندې داسې ابتکاري احساسات څرګندکړل چې اغیزه یې پرټولو باندې دپاملرنې وړوه .دی داسی ښکاریده چې په خپله یې هم له دغې غونډې څخه ډیرخونداخستی ، ان دومره چې ما په ډیرسختۍ سره وکولای شول چې دی له هغه ځایه راوباسم .
دده کمپ ته دبیرته راتګ په ترڅ کې ما بیاله ده سره دعمومي مراسمو په اړه خبره رامنځ ته کړه اوپه دغه باره کې مې له ده سره دشپې ترنهوبجوپوري خبري وکړې. ما یوځل بیا پخواني دلایل ورياد کړل اوهمداسې دواړوپر هغو پوښتنوباندې هم خبري وکړې چې اوس نوې رامنځ ته شوې وې .ما بیا اروپایي انتخاب ورياد کړخو ده بیاهم راته وویل چې دی اوس هم دهغه انتخاب په فکرکې نه دی. ما پوښتنه رامنځ ته کړه،چې موږ اروپایان ولې دآسیایی واکمنانوپردریځ چې دلته یې لري نه پوهیږو، دمثال په توګه زموږ پاچا یووخت بلجیم ته په سفروچې یوه هلک دزورباندې وکړ، خو دغه هلک ته چاهیڅ سزا ورنه کړه په دې چې هغه ۱۸ کلن و، آیاداکارپه آسیاکې شونی دی؟

(*)درامپورنوابي سلسله د افغانانوله نوابیوڅخه یوه ده ، دغې کورنۍ بنسټ نواب علی محمدخان ایښې چې د درانې امپراتورۍ له پیاوړملاتړکوونکو څخه و. ددغونوابانو وروستیو نسلونو له هغه وروسته چې د لوهارو له شیعه نوابي کورنۍ سره یې ودونو وشول، خپله دیني تګلاره هم واړوله. دوی سنی مسلمانان وو، خو وروسته شعیه ګان شول،دوی له انګریزانوسره ډیزنژدي وو، همداوجه وه چې تل یې دهغوی سترګو ته کتلي دي، او دهغوی دخوشالولو لپاره یې د افغانستان او افغانانو په وړاندې درامپوري ولس د ارادې خلاف دریځ غوره کړی دي ، د ۱۸۷۹ کال په انګریزي یرغل کې هم ددغې نوابۍ زیات پوځیان په انګریزي پوځ کې دهغوپه ګټه په افغانستان کې وجنګیدل. ځکه نو دامیرحبیب الله خان په وړاندې یې هم له خپلې ارادتي کرکې اوانګریزي واکمنۍ ته دخپلې وفادارۍ څرګندونه کړې ده . د رامپور دا دوه درې وروستي نسله نوابان دهند او سیمې دمسلمانانو له خوا د رافضي نوابانوپه نامه یاده شوې دي .

په دې خاطرچې اوږده کیسه مورالنډه کړې وي، ما په پای کې ده ته داخبره وکړه چې پردې خبره لکه ما مخکې دویسرای د دریځ اواجازې په اړه یادونه وکړه په خپلوکې جوړجاړی وکړو.په دې ماناچې دی باید مخکې تردې چې ویسرای تالارته راننوزي اوغونډه پرانیزي هلته رسیدلی اوځای پرځای شوی وي. دی باید پرستج باندې په یوه خواکې له ویسرای سره پر یوه لیکه خو په لږ واټن سره کیني .ما بیا په خپله دده په خپل لاس ده ته هغه حالت تشریح او وروښودچې دی به هلته د ویسرای له راتګ سره سم په کوزه پوړۍ کې ناست وي ، ترهغو چې ویسرای راننوزی له هغه وروسته به ویسرای اودی دواړه د) جی ،سی ، بی (پرلور مخ په وړاندې ورځي .

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خوامیرله دې ټولو سره سره وویل چې دا دده لپاره د افسوس اودرد وړخبره نه وه چې که ده په دغوعامو مراسموکې ګډون نه وای کړی او یاهم د ویسرای استوګنځی ته نه وای تللی .خوزه پوه شوم چې دافغان کرکتر په وړاندې داخبره ګرد سره څرګنده ده چې کله یوکارونه کړي او وخت ترې تیرشي بیا نوځوریږي . زه باورلرم چې که ده داکارکړی وای دده خلکو به داچلند بل ډول انګیراوه اوپایله به یې یوه داسې تیروتنه کیده چې خبره به په داسې یوه پاریدنه باندې پای ته رسیده چې هندوستان ته به یې دده ټول سفرترخپلې اغیزې لاندې راووست .زه په دې باوریم چې دابه زموږ لپاره ښه وي چې دده خبرې اودریځ ته په هغه شان چې دی وایی دمنلوغاړه کیږدو په دې چې ددغه کارګټه تردې چې ویې نه منو زیاته ده .
دخوشالۍ خبره ده چې باید ووایم نن شپه بریښنا دامیرپه کمپ په سمه توګه خپله رڼاخوروي اوبهیریې سم شوی دی .

جمعه ، د ۱۹۰۷ کال دجنوري ۱۱

زه ولاړم چې ښاغلی ویسرای وګورم او دمراسمو په اړه یې دبیګانیو خبرو پرپایله خبرکړم ، ویسرای هم له هغه جوړجاړي سره چې دده خوښه وه خپل رضایت څرګند کړ .
امیرنن سهارله تاج محل څخه کتنه وکړه چې ژوراغیزیې پرده باندې له ورایه څرګندو .داسې چې له ډیرې حیرانتیایی ونه شوای کولای هغه په هراړخیزه توګه داسې لکه چې ده غوښتل وګوري، ماته یې وویل چې دی به دهغه لیدوته دیک شنبی په ورځ څوخوساعته نورهم ونډه کړي. دده بیړه وه چې زرځان خپل کمپ ته ورسوي ځکه چې له هغه وروسته ده غوښتل چې داګري په لوی جامع جومات کې دجمعې لمونځ وکړي. ماته ویل شوي وو چې دجومات پرشاوخوا باندې دخلکوټیل ماټیل خورازیات دی،خو امیرراته وویل چې ده یې خپل پوځیان استولې څوهلته پر لیکه ودریږي اوکه نه له دې پرته به هغه ونه شي کولای چې جومات ته ور دننه شوای شی . خوما په دغه خبره یوڅه افسوس وکړ چې ګواکې دا کار په دغه اړه بس اوسم نه دی باید نه وای ترسره شوی ، زه پوهیدم چې داکاراوس له دې امله چې ناوخته دی ناشونی دی، بله داچې هلته داسې فضانه ده چې څوک به دچا مخه ونیولای شي ،خو ما بیاهم هیله څرګنده کړه چې کاربه سم وي .
ماسپښین ما امیرد متحده ولایتونو دلفټننټ جنرال (Sir John Hewett) دبن مازدیګرنی ته بوت، له دغې میلمستیا سره چې له جمخانې سره ملګري وه. بیلابیلی ننداري دموسیقی له ښکلاسره یوځای د ۱۵ حصارله خوا برابرې شوې وې. چې دغوټولو پرامیرباندې ځانګړې اغیزوکړ. په ټوله مازدیګرنی میلمستیا کې دامیرزیاته بوختیا اونژدیوالی له لارد اومیرمن مینټو سره وه. دهندې مشرانو چلند اودامیرراشه درشه له هغوی او اروپایانو سره تردیره حده په هماغه شان وه لکه چې پرون مودویسرای دباغچې په میلمستیا کې درلوده .
په ماښام کې امیرپه هغو مراسموکې برخه واخیسته هغه چې په رسمی اودولتی کچه دده په ویاړ په رسمی توګه د ویسرای له خوا جوړشوي وو. نژدې شل دقیقې ناوخته راورسید اودا دده لومړی ځل وچې دغوعامو مراسمو ته یې ناوخته ځان راورساوه .
په دغه ترڅ کې کومه ستونزه چې دده په وړاندې رامنځ ته شوه،هغه په تمامه معنا یوه تصادفی ستونزه وه . موږ دی په اووبجو او پنځه څلویښت دقیقو رابللی و، ما امیرولید چې په ټاکلي وخت باندې دې ته تیارو چې باید حرکت وکړي. خوناڅاپه ماته خبرراغی چې کیدای شی تر(۸-۱۵) پورې وځنډیږي، ما دی نژدې نیم ساعت په خبرو ونیو، موږ دې ته تیاروو چې په ټاکلي وخت باندې وخوځیږو،چې په دغه وخت کې دده دډلې یوه بې عقل ده ته دویسرای دوینا پارسی ژباړه چې دده دروغتیا هیله په کې شوې وه ورکړه .سره له دې چې داوینا مامخکې ده ته ورسپارلې وه، خواوس یې چې دغه متن ترلاسه کړ،پرهغې بوخت شواوغوښتل یې چې هغه ټوله په دقیقه توګه ولولی او په ذهن کې یې وساتي، ما هم نه شوای کولای چې ده ته ووایم ځه درپورته شه ،ځکه نو ناوخت شو. له بده مرغه چې داکارسم نه وپه دې چې دده دغه ناوخته راتګ د زیاترو لپاره ځورونکی اوخواشینونکی و .
باید ووایو،چې امیرخپله هم دغه کارته اندیښمن و،خو داکار په تمامه مانایوتصادف واوبس .
امیراوویسرای دماښامني په ترڅ کې له یوه اوبل سره ډیرې آزادې خبرې کولې. وروسته بیا ښاغلي ویسرای دټولواکمن دروغتیا په هیله دخپل ځښاک پیاله پورته کړه ، دخپلې وینا په ترڅ کې یې هند ته داعلیحضرت ددغه سفرله امله ښه راغلاست ووایه، اوهیله یې وکړه چې دده تم کیدل به دلته دده له روغتیا اوخوښۍ سره مله وي .
دویسرای له وینا وروسته امیرودرید اوخپله وینا یې په فارسی کې وویله : « زه دزړه له کومې خوشاله یم چې دلومړي ځل لپاره له خپله کوره راوځم او دملګري کره یم. دزړه له کومه منندوی یم چې ما دځان او دهیواد لپاره یوځانګړی دوست چې هغه عالجناب منټودی وموند.همداسې دزیاتې مننې وړده چې زه مې دخپل ملګری عالیجناب د نورو دوستانو له خوا په خورا تودو احساساتوسره په دغه سفرکې دزړه له کومې هرکلی شوم .زه له تاسو نوابانو، مشرانو، مهاراجاګانو اونوروټولو څخه دزړه له کوم مننه کوم او وایم چې دغه جام به دعالیجناب ویسرای دروغتیاپه خاطرپورته کړو هیله من یم چې ما به په دغه ترڅ کې بدرګه کړئ »
له ماښامني وروسته چې کله موږ په خوړنځي کې وځنډیدوامیرپه دغه وخت کې په هیجاني توګه یوې اوبلې خواته په غیررسمي توګه په خورا خوشاله فضاکې ګرزیده اوله هرچا سره یې په خوشالۍ سره خبرې کولې،کله چې ما هغه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دبنګال قاضی القضات سرفرانسس میکلن (Sir Francis Maclean) ته وروپیژاند، هغه له اعلیحضرت څخه پوښتنه وکړه چې تاسي په افغانستان کې قانونی محکمې لرئ ؟ هغه ځواب ورکړ: هو ، ډیرې ، له هغه وروسته یې دهغو غونډو یادونه هم ورته وکړه چې دوی په کې راټولیږي.هغه وویل چې زموږ قانون داسې نه دی لکه ستاسې هغه ، کله چې تاسې دقانون خبره کوئ،زما په نظرله هغه څخه موخه عدالت او برابري ده. سرفرانسس میکلن دقانون پردفاع ټینګارکاوه چې امیریوناڅاپه هغه وپوښتیده :

- تاسې دلیوني سپي په اړه څه ډول معامله کوئ ؟

لوی قاضی ځواب ورکړ چې : وژنو یې .

امیرځواب ورکړ: ډیرښه ،لاس یې ورکړ، په توده روحیه یې دهغه خبره وستایله او ورته وویل :

-زه هم په همدغه نظریم .

له هغه وروسته یې خپله پاملرنې دسمندري ځواکونود قوماندان خواته کړه دچا پرلورچې ده زیاته لیوالتیا درلوده .

ده څوشعرونه هم په دغه اړوویل چې ، سمندرداسې ځای دی چې هوښیارخلک له هغه څخه ځانونه ساتي .

دیادولو وړه ده چې دماښامنۍ پرمهال امیرله دې امله ډیرخوشاله وچې هندوشهزادګان یې دلته لیدل ، چې دمیزونوپرسرناست وو اولکه دنورو په شان یې خوړل اوڅښل کول. دی پردې ډیرخوشاله وچې دهغوپه ډله کی یې دګوالیارمهاراجا ترسترګوشواوما ته یې وویل »: دپرتم خبره ده چې شهزاده مو وموند.غواړم چې زه ځان میلمه پال کړم، کولای شې دلته کینې او له ماسره څه وخورې . « .

هغه په رښتیاهم په دغه ماښام ډیرخوشاله و، هغه ماخپل استوګنځي ته دهغه دلابریمنی روحیی دهیلې په ویلوسره ورساوه .

خوستونزې بیاهم سبا ته په مخ کې پرتې وې .،ماامیرته درښتیاینې داډول وهلی و چې ویسرای به دسلامی دکتنې په ترڅ کې منندویه وینا کوي نه دی ، ده له ماسره ژمنه وکړه چې دی به یې نه کوي، خوبیا ده داوویل چې دابه ډیره ګرانه وي،ځکه چې په افغانستان کې دادود دی چې هردرناوی کوونکی د درناوي ویلو حق لري،نه داچې مشر خبرې وکړي نور نه .

پاتې لري

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ